د افغانستان اسلامي امارت
وزارت ماليه ـ د ماليې وزارت

# د ارزاقو دولتي‌شرکت | شرکت دولتی ارزاق
# State-Owned Corporation of ARZAQ

## د خوراکي توکو رسولو کې اغيزمن او خوندي خدمتونه



## پروفايل

تيلفون: 0093-020-2500041/42/43 | موبايل: 0700209928 - 0795233419 0093 | ايميل: generalfooddept@gmail.com - info@arzaq.af
ويب سايت: http://www.arzaq.af | آدرس: جوار سيلوی مرکز، ناحيه سوم شهر کابل ـ افغانستان



**لنډه تاریخچه:**

افغانستان په اسیا کې د په وچه کې را ګیر، غرني او زراعتي هیوادونو له جملې څخه دی چې د غنمو او نورو غذایي موادو د تولید له کبله په زراعت کې د ستاینې وړ شهرت لري، ډېر پخوا د آریانا د امپراطور لوی کنشکا په وخت کې  تولید شوې غله‌دانې ګدامونه په غرونو کې په کښل شوي غارونو کې ساتل، د افغانستان پخوانیو شاهانو هم د تاریخ په اوږدو کې دوئ نه په الهام اخستو خپل د اړتیا وړ توکي ذخیره کول. د وخت او مختلفو دورو په تیریدو  څو-څو ځله د هیواد د کرکیلي ځمکې او پخوانی ساتن‌ځایونه لمینځه ولاړل چې د لوی احمدشاه بابا د امپراطوري په دوران کې ګدامونه او د غله‌دانو نوي ساتن‌ځایونه جوړ او د کرنې برخې ته پاملرنه زیاته شوه.

په را وروسته دورو کې له نورو اصلاحاتو سره-سره د کرنې نظام او د غله‌دانو ساتنې ته بېل طرزالعملونه او له تولیدي سیمو د غله‌دانو را ټولولو او ساتلو ته د نوي ډېرین ګدامونو تهداب

کینښوودل شو. له دوهمې نړیوالي جګړې را وروسته د وخت حکومت د غلهدانو د برابرولو، ساتلو او وېش لپاره په (۱۳۱٦) کال کې لمړنی ځانګړی شوی واحد د (غلهدانې د تهیه کولو مدیریت) په نوم تأسیس کړ چې له دې پروګرام یې هدف د غلهدانو د توزیع مدیریت، له داخلي منابعو د وریجو او غوړیو برابرول او له خارجي منابعو د چای او بورې برابرول او عرضه کول وو، البته دولتي ادارو ته د اړتیا وړ غذایي توکو اکمال هم د هغوئ د غوښتنو مطابق له همدې ادارې تر سره کیده.

په (۱۳۳۲) کال کې د ټولیزو اسانتیاوو مجلس د غلهدانې د تهیه کولو مدیریت د (ارزاقو د تهیه کولو ریاست) ونوماوو چې په (۱۳۳۳) کال کې په فعالیت شروع وکړه، په اړونده برخه کې یې خپل پراختیایي مزل ډېر ژر تر سره او له (۱۳۳۳) نه تر (۱۳۳٦) کال پورې یې د (سیلو) عصري او مجهزه ودانۍ د ټولو تولیدي ظرفیتونو په لرلو سره د ارزاقو د تهیه کولو ریاست له دوراني بودجې جوړه او ګټې اخستنې ته وسپارله چې د (۲۰) زره ټنه غنمو د ذخیره کولو ظرفیت یې درلود؛ د وخت له غوښتنې او پراختیایي پلان د اړتیا پر بناء د کابل سیلو تر څنګ د غلهدانې ساتنې لپاره دوه نوري د سیلو ودانۍ د (۳۰) زره ټنه په ظرفیت جوړې شوې چې ټولټال ظرفیت یې (۵۰) زره ټنه ته لوړ شو. په (۱۳۴۳) کال کې د ارزاقو د تهیې ریاست هویت (د ارزاقو او عامه اړتیاوو اداري واحد) ته بدل او په (۱۳۴٦) کې یې د افغانستان د ارزاقو مؤسسې په نوم نوی پیل کړ چې په بیړني پرمختګ یې د ارزاقو ریاست په پانګه د (دوهمې ژرندې) ودانۍ جوړه او په (۱۳۴۹) کال کې ګټې اخستنې ته وسپارله، د پلان مطابق د پلخمري، بلخ، هرات او کندهار ولایتونو کې سیلوګاني جوړې او ولایتونو کې د ارزاقو د لوی ریاست نمایندګۍ ایجاد شوې.

په (۱۳۴۷) کال کې په ازمایښتي ډول په مرکز کې ملکي کارکوونکو ته د کوپون کتابچو لهمخې د لمړنیو غذایي توکو وېش پیل او په (۱۳۵۴) کال کې دا لړۍ تر ولایاتو ورسیده. د ارزاقو د تصدۍ اساسنامه په دوو بېلو برخو (تجارتي او خدماتي) باندې استواره وه چې د اړتیا وړ توکي له داخلي او خارجي منابعو تدارک، ټولني، اداراتو او عامو خلکو ته یې د اړتیا وړ خدمات په مرکز او ولایاتو کې وړاندې کول.

د شرکتونو د قانون له نافذیدو وروسته د ارزاقو تصدي د حقوقي شخصیت په تغیر سره دولتي شرکت باندې بدل شو او د جمهوري ریاست د مقام د (۲۸) په (۱۳۹۸/۱۱/۱۵) نېټه فرمان په اساس د ملي پراختیا شرکت ایجاد او د ارزاقو شرکت هم ورسره یو ځای کړل شو چې د ملي پراختیا نوي تأسیس شوي شرکت تر چتر لاندې یې خپل فعالیت ته دوام ورکړ، وروسته د جمهوري ریاست مقام د (۴۹۸۸) په (۱۳۹۹/۱۱/۱۸) نېټه هدایت په اساس د ارزاقو شرکت خپلواک او د دې شرکت اساسنامه د عدلیې وزارت او مالیې وزارت لخوا طی مراحل شوي.

په (۱۴۰۰) کال کې د ارزاقو دولتي شرکت رهبري د نه ستړي کیدونکو هلو-ځلو او د دولت د پالیسي او استراتیژي اداري په مرسته د ملي تدارکاتو له کمېسیون څخه د لوړو زده کړو محترم وزارت اړوند د پوهنتونونو د لیلیو د غذایي موادو د اکمال احکام تر لاسه او عملاً یې په تطبیق کار پیل کړ، په دولتي چوکاټ کې د (دفاع وزارت، کورنیو چارو وزارت، لوړو زده کړو وزرات، پوهنې وزارت او د عامې روغتیا وزارت) تر لاسه کړل.

په ۱۴۰۱ مالي کال کې د سیاسي بدلون وروسته د ارزاقو دولتي شرکت له کورنیو چارو وزارت، لوړو زده کړو وزارت، دفاع وزارت او نورې ټولې هغه دولتي ادارې چې د غذایي موادو مصرفوونکي دي په جریان کې دی، اوسمهال د لوړو زده کړو وزارت اړوند په مرکز او ولایتونو کې د پوهنتونونو د لیلیو د غذایي موادو او د کورنیو چارو وزارت د مرکز او ولایتونو د امنیه قومندانیو د حبوباتو قراردادونه چې ټولټال حجم یې تقریباً دري میلیارده افغانۍ کیږي لاس‌ته راوړي او عملاً یې تطبیق جریان لري.

**د شرکت آدرس:**

د مرکزي سیلو تر څنګ، درېیمه ناحیه، کابل-افغانستان

- **د شرکت لرلید (Vision)**

د دولتي او غیر دولتي ادارو لپاره د غذایي موادو د تأمین یوازنۍ، معتبره او خوندي مرجع

- **ماموریت: (Mission)**

د ارزاقو دولتي شرکت دولتي ادارو، غیر دولتي ادارو او د ټولني مختلفو قشرونو ته د غذایي توکو د بهترینو، پر وخت، مؤثرو او خوندي خدماتو وړاندې کوونکی شرکت دی او په هر وخت کې یې یاده برخه کې ارزښتمن خدمات په مختلفو ډولونو وړاندې کړي. همدارنګه دولتي اداري د لمړنیو غذایي موادو د تهیه کولو په برخه کې له څو لاسۍ خلاص او د ارزاقو دولتي شرکت دنده لري چې د ټولو ادارو او نهادونو اړتیاوې د احصایې له را ټولولو وروسته د غذایي موادو په برابرولو، تورید او زیرمه کولو له لارې پوره کړي. په معلوم او لازم وخت کې د ثابتو او استراتیژیکو زیرمو په موجودیت کې بازار ته د غذایي موادو په وړاندې کولو د قیمتونو لوړیدل کنټرول او همدارنګه دولتي کارمندانو ته د لمړنیو غذایي توکو په وېشلو سره کولای شي بازار ته د مراجعه کوونکو خلکو د پام وړ شمېر تمویل کړي چې د قیمتونو د ثابت پاتې کیدو ستر لامل کیدای شي.

- **پېرودونکي: Customer**

د ارزاقو دولتي شرکت اوسمهال د خپل سوداګریز پلان مطابق لاندې پېرودونکو ته خدمات وړاندي کوي.

- د غذایي موادو مصرفوونکي دولتي اداري
- غیر دولتي اداري چې د غذایي توکو په برخه کې فعالیت لري
- د هیواد آزاد بازارونه
- د غذایي توکو خصوصي شرکتونه
- د ټولني مختلف قشرونه

**محصولات/خدمات:**


- وریجي، غوړي، حبوبات، اوړه، غنم او نور غذایي توکي
- په مناسب قیمت د باکیفیته غذایي موادو وېش

- په ټول هیواد کې د پیرودونکي په غوښتنه غذایي توکو ته لاس‌رسی
- د بازار د قیمتونو د ثابت ساتلو په موخه د غنمو پیرل او د منځنۍ آسیا څخه واردول
- **د تولید او خدماتو وړاندې کولو اوسنی او احتمالي ظرفیت**


| شمیره | محصولات او خدمات | واحد (Unit) | فعلی ظرفیت | بالقوه ظرفیت | کتنې |
|---|---|---|---|---|---|
| 1 | **د کلني خدماتو وړاندې کول یا دتولید ظرفیت** | شمیر | 200,000 نفر | 700,000 نفر | که دولتي قراردادونه راکړل شي |
| 2 | **په کلني توګه د پیرودونکو لپاره د خدماتو وړاندې کول** | شمیر | 161000 د کورنیو چارو وزارت پرسونل | 600000 د کورنیو چارو، استخباراتو او ملي دفاع وزارتونو پرسونل | |
| | | | 39000 د مرکزي او ولایتي پوهنتونونو د لیلیې محصلان | 100000 د لوړو زده کړو وزارت د مرکزي او ولایتي پوهنتونونو د لیلیې محصلان | |
| 3 | **د محصول ډولونه (د خوړو رسول او ذخیره کول)** | د اقلامو شمیر | د خوراکی توکو ۳۴ قلمه | د پیرودونکي غوښتنې سره سم | |
| 4 | د کار اندازه (مستقیم/غیر مستقیم) | شمیر | 200 نفر | 500 نفر | |

- **مالی معلوماتی:**


| **د مفاد او ضرر حسابونه**<br>له 1401 څخه تر 1403 پورې (دوه احتمالي کلونه او یو اټکل شوی کال) | | | |
|---|---|---|---|
| **کال** | 1401 | 1402 | 1403 |
| **اساسی او غیر اساسی عواید** | **3,022,488,142** | **7,000,000,000** | **10,000,000,000** |
| **تمام شوي لګښتونه** | **2,417,990,513.60** | **5,600,000,000** | **8,000,000,000** |
| **ناخالصه ګټه** | **604,497,628** | **1,400,000,000** | **1,600,000,000** |
| **عملیاتی لګښتونه** | **67,026,540.00** | **70,000,000** | **100,000,000** |
| **مالیات** | **120,899,525.60** | **280,000,000** | **320,000,000** |
| **خالصه ګټه** | **483,598,102.40** | **1,120,000,000** | **1,280,000,000** |




| د بیلانس شیت حساب<br>له 1401 څخه تر 1403 پورې (دوه احتمالي کلونه او یو اټکل شوي کال) | | | |
|---|---|---|---|
| کال | 1401 | 1402 | 1403 |
| شتمني | 407,542,345 | 407,542,345 | 407,542,345 |
| جاري شتمني | 250,416,970 | 250,416,970 | 250,416,970 |
| ثابت شتمني | 157,125,375 | 157,125,375 | 157,125,375 |
| قرضونه | 68,734,930 | 68,734,930 | 68,734,930 |
| جاری قرضونه | 22,644,243 | 22,644,243 | 22,644,243 |
| اوږد مهاله قرضونه | 46,090,687 | 46,090,687 | 46,090,687 |
| سرمایه | 655,529,773 | 655,529,773 | 655,529,773 |



- ## تشکیلاتي جوړښت:




| بست | اول | دوم | سوم | چهارم | پنجم | ششم | هفتم | هشتم | مجموع |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| مرکزی | ۱ | ۳ | ۷ | ۲۰ | ۴۰ | ۳۱ | ۵ | ۲۱ | ۱۲۸ |
| ولایتی | | | | ۳۰ | ۳۵ | ۴ | | ۲٦ | ۹۵ |
| مجموع | ۱ | ۳ | ۷ | ۵۰ | ۷۵ | ۳۵ | ۵ | ۴۷ | ۲۲۳ |

| شمیر | د زدکړه سطحه | شمیر | تجربی ( کال) | شمیر | عمر |
|---|---|---|---|---|---|
| 0 | داکتر | 80 | د 30 کال | 54 | 64-60 |
| 1 | ماستر | 31 | د 21-30 کال | 54 | 60-50 |
| 20 | لسانس | 7 | 11ـ 20 کال | 14 | 50-40 |
| 10 | 14 پاس | | | | |
| 109 | بکلوریا | 3 | 5 ـ 10 کال | 11 | 40-30 |
| 47 | بیسواد | 19 | لاندی 5 کال | 7 | 30-20 |

- د ارزاقو دولتي شرکت په مرکز او ولایاتو کې (۱۴۰) تنه کارکوونکي لري.
- د ارزاقو دولتي شرکت د مرکزي او ولایتي خدماتي کارکوونکو شمیر (۴۷) تنه دي.

- ## د ارزاقو دولتی شرکت ټولنیز مسؤلیت:

- د لومړنیو توکو لپاره د کورني بازار سروې او ارزونه (د کورنیو تولیداتو سره د وارداتو پرتله کول
- د اړوندو څانګو سره په همغږۍ د کورني تولیداتو د ودې لپاره د عمومي ستراتیژۍ چمتو کول

- د اساسي خوراکي توکو د واردولو د تنظیم لپاره د قانوني اسنادو تالیف او بهیر.
- د وړ چارواکو لخوا وړاندیز شوي عملیاتي پلان او ستراتیژیو په تدریجي ډول سره پلي کول.
- د کرنې اړوندو سکتورونو لپاره د مالیاتو معافیت او سبسایډي منظوري ترلاسه کول.
- د حاصل په وخت کې د توکو را ټولول، اخیستل، د شرکت په ګدامونو کې ذخیره کول او د هغوي په واسطه په بازار کې د قیمتونو کنټرول کول.
- په سیمه کې د ارزانه بازارونو څیړل او لټول او د حکومتونو ترمنځ د یاداښتونو لاسلیک کولو لپاره د اسنادو چمتو کول.
- د خوراکي محصولاتو د قیمتونو او عرضه کنټرول او تنظیمول.
- د پلانونو او ستراتیژیو د تطبیق څارنه او ارزونه.

- **د اړیکو وسایل:**

**د ارزاقو دولتي شرکت د ریاست سره اړیکه :** **020-2500041**

**د تجارتي معاونیت سره اړیکه :** **020 ـ 2500042**

**د مالی او اداری معاونیت سره اړیکه :** **020 ـ 2500043**

**د شرکت برښنا لیک :** **generalfooddept@gmail.com / info@arzaq.af**

**دارزاقو دولتی شرکت ویب سایت: www.arzaq.af**

- **د پیرودنوکو نظرونه ( Feedback )**

د ارزاقو دولتي شرکت مشتریان د شرکت له کړنو څخه په بشپړ ډول راضي دي، په دې اړه څو مکتوبونه او ستاینلیکونه شرکت ته استول شوي دي.



پوهنتون پولی‌تخنیک کابل

سپاس‌نامه

شماره ثبت ۴۲

تاریخ ۱۹/ ۳/ ۱۴۴۴ هـ ق یا ۲۳/ ۷/ ۱۴۰۱ هـ ش

پوهنتون پولی‌تخنیک کابل از شرکت محترم دولتی ارزاق جهت تهیه و فراهم نمودن به موقع مواد اعاشوی مورد ضرورت سال ۱۴۰۱ هـ ش لیلیه پوهنتون پولی‌تخنیک کابل طبق قرارداد سپاس‌گزاری نموده و هم‌چنان از سلوک نیک مسؤلان و کارمندان این شرکت قدردانی به عمل می‌آید.

این کانون علمی برای آن شرکت محترم در زمینه‌ی خدمت‌رسانی موفقیت‌های بیش‌تر از خدای مهربان خواهان است.

با احترام

پوهنوال دیپلوم انجنیر عبدالرشید اقبال

رئیس عمومی پوهنتون پولی‌تخنیک کابل

دافغانستان اسلامی ا.
امارت اسلامی افغانستان
د لورو زده کرو وزارت
وزارت تحصیلات عالی
ریاست پوهنتون بدخشان
معاونیت مالی واداری
مدیریت خدمات

شماره ۲۶ع ۹

تاریخ 1401/2/6

متحدالمال | عاجل | محرم | عادی

به شرکت محترم دولتی ارزاق ولایت بدخشان !

السلام علیکم ورحمته الله وبرکاته:

موضوع: اکمال مواد اعاشوی.

نامه شماره 15/41/تاریخ 1401/3/1 شمارا احتراماً جواب است .

به اساس موافقت نامه وزارت محترم تحصیلات عالی که شرکت محترم دولتی ارزاق مسولیت اکمال مواد اعاشوی لیلیه های پوهنتون قرارداد نموده بودند مدیریت محترم عمومی ارزاق ولایت بدخشان در اکمال مواد اعاشوی لیلیه های پوهنتون همیشه همکار بوده مواد این نهاد را به وقت زمان اکمال نموده است ریاست پوهنتون از همکاری شرکت مذکور راضی میباشد .

بااحترام

پوهنیار نقیب الدین قاضی زاده

ریس پوهنتون بدخشان



امارت اسلامی افغانستان
قوماندانی امنیه ولایت غزنی
معاونیت تامینات
مدیریت لوژستیک

تقدیر نامه

شماره ثبت: ۱

تاریخ: ۲۷/ ۷/ 1401

قوماندانی امنیه ولایت غزنی از شرکت محترم دولتی ارزاق ولایت غزنی جهت اکمالات به موقع مواد اعاشوی مورد ضرورت قطعات و جزو تام های این قوماندانی بابت سال مالی 1401هـ ش طبق قرار داد تقدیر نموده و همچنان از سلوک نیک محترم قاری عبدالباسط "ابوطارق" و سایر کارمندان این شرکت قدردانی به عمل می آید . این قوماندانی برای آن شرکت محترم در زمینه خدمت رسانی موفقیت های بیشتر از خداوند منان خواهان است.

بااحترام

مخدوم محمدعالم "ربانی"

قوماندان امنیه ولایت غزنی

واخلی.